


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپي »

د نشرنيته : 6 نوامبر 2020

# د خزان باد !

عمر هسې ژر تېرېږي
لکه سترګې، چې رپېږي
لکه پاڼه، چې ژېړېږي
دخزان په تاو رژېږي
ژوند د مرګ يوترانه ده
عاقلان په دې پوهېږي
په لنډ عمر باور نه شته
چې اکثره پرې غولېږي
دريغه دې فاني دنيا نه
د هر چا کډې بارېږي
بيا په قبر هلته شمعې
په چا مړې ، په چا بلېږي
يو کفن به وي مليارہ
نور به هرڅه پاته کېږي
ښه چې مينه وي مليارہ
خاطرات به دې يادېږي
***

عبدالحفيظ « مليار »

www.said-afghani.org - بازگشت به صفحه اصلی